گډه مطبوعاتي اعلامیه

## یونیسف افغانستان او غالب پوهنتون په یوه علمي سیمپوزیم کی د ماشومانو خوارځواکی په گډه وڅیړله.

کابل، افغانستان، د نومبر لمړي نیټه ۲۰۱۵: نن کابل په انترکانټینیټل هوټل کي د ماشومانو د خوارځواکي په اړه یو ورځني علمي سیمپوزیم د یونیسف افغانستان اوغالب پوهنتون لخوا خوا ترسره شو. په دي علمي سیپوزیم کی له ۲۰۰ زیاتو محصلینو گډون کړی وو چی ویناوال یي د روغتیا په برخه کي د ولسمشر سلا کار ډاکتر فیض الله کاکړ، د لوړو زده کړو وزیره ډاکتر فریده مومند ، دعامي روغتیا د وزیر سلاکار حبیب الله سهاک، ، د مندني ټولني فعاله فرخنده زهرا نادری، او د افغانستان لپاره د یونسیف د نماینده مرستیال ډاکتر بالاجی وو.

د دی علمي سیمپوزیم په پرانسته کي په روغتیایی چارو کی د ولسمشر صلاکار وزیر ډاکتر فیض الله کاکړ د خپلو خبرو پر مهال (دماشومانو تغذیه ډیره مهمه وګڼل او زیاته یی کړه چی د ژوندانه لومړی ۱۰۰۰ ورځی د ماشوم په ژوند او توسعه کی ځانګړی ځای لری په دی وخت کی دواړو مور اوماشوم ته ځانګړی پاملرنه په کارده. کاکړ د سمو او لوړ کیفت لرونکو غذایی موادو پر استفادی باندی ټینګار وکړ او ویي ویل چی عام وګړی باید دهغه غدایی موادونه ګټه پورته نکړی چی د کیفت له نظره د روغتیا وزارت له خوا منظور شوی نه وی اوپه همدی ډول یی وویل چی دولت باید پری نږدی چی بی کیفته غذایی توکی په ځانګړی ډول غوړي و مارکیت ته لاره پیدا او دماشومانو ژوند د ستونزو سره مخامخ کړی)

د افغانستان لپاره د یونسیف د نماینده مرستیال ډاکتر بالاجی وویل، افغانستاد د نړی په هغه ۳۷ هیوادونو کی راځی چی د وګړو وني (قد) یی سم رشد ندي کړي په ۲۰۱۳ کال کی د افغانستان په اړه د خوارځواکي ملي سروي ښی دا ستونزه په ماشومانو کی ۴۰,۹ فیصده ده.
هغه ماشومانو چی سالم رشد یي نه وي کړی ونه یی نظر په عمر سره لنډ وی ښه زده کړه نشی کولای او د دوی ژوند د اوږد محال لپاره له ستونزی سره مخامخ کوی. هغه ماشومان چی عمرونه یی د څلور او نهو کالو ترمنځ وی د دوی مغزونه دوه ځلی داسی فعال کیږی لکه د یو بالغ انسان مغز. د ښی غذا پرته دماشوم دماغ هیڅ کله هم ښه وده نه کوي، او دا

**ماشومان په ښونځی کي ښه زده کړه او اقتصادي پرمختک نشي کولاي. او دا علت ددی سبب کیدلای شی چی دغه کسان و راتلونکي نسل ته سوي تغذيه انتقال کړی. طبعی خوار ځواکی داسی یوه ستونزه ده چی مخنیوی یی امکان نلری.**

**.**

**داکټر بالاجی د پوهنتون په استادانو او محصلینو ږغ وکړی چی د مورد شیدو د اوسپنی او فلوریک اسید دځوانو انجونو د تغذیی د پاکو اوبو، روغتیا او نظافت په اړه عامه پوهاوی کولای شی چي د افغانستان دماشومانو د مړیني سطحه راټيټه او دی وضعيت ته تغیر ورکړی.**

**ډاکټر علي احمد یوسفي د غالب پوهنتون علمي مرستیال د خپلو خبرو پرمهال وویل، د یوه دوام داره پرمختګ لپاره د خلکوظرفیت لوړونه مهمه ده او ماشومان د بشری ټولني اساس جوړه وی.غالب پوهنتون د یونیسف افغانستان په همکاری د ماشومانو د خوارځواکی په اړه دا علمي سیپوزیم جوړ کړي دي. د ماشومانو د تغذیی اوسني حالت د منلو وړ ندي او نه هم باید ومنل شي. دا حالت باید بدلون ومومی، او ددی حالت د دبدلون لپاره د ټولو هغه کسانو ژمنو ته اړتیا شته چی په ټولنه کي ژوند کوي. زه غواړم په ټولو علمي کدرونو، ځوانانو، سیاسیونو، رسنیو، والیدینو، نړیوالي ټولني ږغ وکړم چی دی موضوع ته جدی توجو وکړي او په دی برخه کی اغیزمن رول ولوبوی ترڅو په افغانستان کی د ماشومانو خوراځواکي پاي ومومي.**

**دا علمي سیمپوزیم د یونیسف او غالب پوهنتون په ګډو هڅو سره ترسرشو چي په ترڅ کی یی د ماشومانو د خوارځواکۍ په اړه علمي مقالي ،د ماشومانوخوارځواکی ستونزی ته د حل لارو د موندلو، اساسي پیغامونه، او لاريون ترسرشوو چي په اړه د ټولو یوالي څرګند کړ.**

**د یونیسف په اړه: یونیسف د نړي په ۱۹۰ هیوادونو کی کار کوي تر څو چي له ماشومتوبه بیا تر ځواني پوری د هر ماشوم حق او سلامتیا خوندي وساتي. یونیسف د ماشومانوله صحت، تغذیی،د هلکانو او انجونو د ښوونه او روزني سره مرسته کوي، او دماشومانو ستانته له تاوتریخوالي، شاقه کارونو، او ایدز څخه د یونیسف په لمړي توبونو کي راځي. یونیسف د ماشومانو لپاره مرستي، له سوداګرو، ټولنو، افرادو، او دولتونو څخه ترلاسه کوي.**

**.د لا زیاتو مالوماتو لپاره زموږ انترنتي پاڼه وګورئ:**

[www.unicef.org](http://www.unicef.org).

**د غالب پوهنتون په اړه: غالب یو شخصي پوهنتون دی چي په کابل او هرات کی ځانګي لري. په ۲۰۰۹ میلادي کال کی د لوړو زده کړو د انستیټیوټ په بڼه رامنځ ته شوو، د ښه زده کړو په وړاندی کولوسره په ۲۰۱۵ کال کی د لوړو زده کړو د وزارت لخوا یی و پوهنتون ته ارتقاع وکړه. او درسي پروګرامونه یی د محصلینو لپاره داسی ترتیب شوی دی چی د مارکیټ غوښته پوره کړي.کریډیټ سیستم لري، له لکچر، عملي او صنفي کارونه، تحقیق، امتحاني ساعتونه، د چمتوالي ساعتونه او شخصي د محصلینو کورني کارونه د دي پوهنتون له پروګرامونو څخه دي.**

###

**د لازیاتو معلوماتو لپاره:**

سید معروف همدرد، یونیسف افغانستان:

+90(0) 798 50 71 13, smhamdard@unicef.org

ډاکټر عبد الرحمن حمید د غالب پوهنتون د طب پوهنځي ریس

+90(0) 799315548, [dr.rahmanhameed@gmail.com](mailto:dr.rahmanhameed@gmail.com)